بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# هنګو: د خیبرپښتونخوا پولیس په وخت کارروائي، د ترهګرۍ لویه منصوبه ناکامه کړې ده یو بل جومات د شریعت دښمنه ټی ټی پی لخوا شهید کړي شو

د هنګو ضلعې په دوابه سیمه کښې د پولیس اهلکارو د پوره مسلکیتوب او زړورتیا په ښودلو سره د خوارجانو شوم هدفونه شنډ کړل۔

د تي تي پي دوه ځانمرګي بریدګر په ګاډي کې د پولیسو لخوا په وخت په چیک پوسټ د پېژندلو سره سم په نښه کړ او یو ځانمرګی بریدګر یې په ډزو سره وژلی دی۔


شهید جومات


ځانمرګی بریدګر ووژل شو

یو بل خوارج ځانمرګی بریدګر جومات ته ننوت او ځان ته یې چاودنه ورکړه۔ له نېکه مرغه، لمونځ کوونکي د ډزو له اورېدو وروسته د جمات نه بهر شوي وو، چې په پایله کې یې لږ زیان اوښتی دی۔

د تایید شویو راپورونو له مخې، په دې ځانمرګي برید کې د تي تي پي سره تړلي خوارج ډلي امتی او ترهګر حافظ دولت لاس لري، په داسې حال کې چې تي تي پي د خلکو له غبرګون او زیاتېدونکي کرکې له وېرې له دغه برید نه انکار کوي، او خپل روایتي منافقت او درواغ یې په ډاګه کوي. د تي تي پي حافظ دولت ډله په افغانستان میشت دي او د پاکستان پر ضد فعالیتونه کوي، د افغانستان موقت حکومت له پکار دي چې د دے ترهګرو پرضد کوټلي ګامونه پورته کړي۔

د عید میلادالنبی په مناسبت پر جوماتونو او بې ګناه لمونځ کوونکو د خوارجیانو برید یو ډېر شرمناک او کرغېړن عمل دی چې د خوارجیانو د تش په نامه جهاد اصلی بڼه په ډاګه کوی۔ په حقیقت کې خوارج د جهنم سپي دي او د هغوی انجام دردناک عذاب دی۔